مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست
۲۰۲۶/۰۶/۰۲

# ترېلي لارې او آمونه

مولوي حسام‌الدین صیب، ته مې د ګیلي په بڼه وویل: د اختر مبارکي دې هم رانکړه!

په کرس کرس یې وخندل: مورږ چې د تاسو امیانو سلام ته ځواب وواېو هم شکر وکاږئ. غلی شوم.

بیا مې ورته ویل: ښه دا خبرې پرېږده، یوه پوښتنه لرم او هغه دا چې:

لارې هم بندې دي خو بازارونو کې د ګاونډي آمونه خرڅیږي.
جناب وفرمایل: البته کوم مبارک به ورته توجه کړې وي.
حیران شوم؛ آم، توجه، بندې لارې، زمونږ تر بازارونو را رسیدل...

هغه خبره وغځوله:

تا د یوه پیښوري عالم وینا نه ده اوریدلې چې کوم بزرګ به پیښور ته توجه کوله؛ نو ټول ښار به رږیده.
ما ویل دا توجه خو د آمونو په شکولو کې مرسته کوي، ونې به رږیږي او آمونه به لاندې را غورځیږي، زمونږ تر بازارونو یې څنګه را رسوي؟

لنډه خندا یې وکړه:

یه، داسې نه ده. بزرګان په توجه څاروي له غونډیو اړوي، نو د آمونو ډکې لارۍ به ولې له بندو دروازو نسې اړولی؟

ما ویل: ښه، چې داسې ده؛ نو زمونږ د انګورو، انارو، منو، خټکیو وخت کې ولې د لارو بندیدو له کبله څوک توجه نه کوي، چې اخوا واوړي؟ ټول وراسته شي او هیوادوال مو درانده تاوانونه وکړي.
غلی و، بیا یې وفرمایل: مورږ په خپل حکمت ښه پوهیږو. ګوره نادانه امې! که مورږ په خپلې توجه له میوو ډکې لارۍ په هوا کړو، هغوی قوي رادار لري. کشف به یې کړي. د جنګي الوتکو ګومان به پرې وکړي او په راکټونو به یې وولي.

شیبه غلی شوم، بیا مې ویل:

سمه ده، د کابل - جلال آباد لویه لاره نږدې هره ورځ بنده وي. و دې ته دې توجه وفرمایي چې له سورلۍ ډک موټر مو په هوا شي او له خنډونو تېر شي.

سرې غوسه شو:

تاسې نا شکره او بې عقیدې امیان چې دغسې زجر او مشکلات و نه ګالئ او زمونږ لا ډېر قدر ونکړئ همداسې په مشقت کې ښه یاست!

نور یې تلفون کټ کړ او مبارک بږغ یې خاموش سو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ